د مدني ټولنې ګډه اعلامیه

## ښځو سره د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون د نقض پر وړاندې

## د افغانستان د ځواب ویونکي کولو لپاره د حقوقي اقداماتو په اړه

۱۴۰۳ د کب ۱۴مه

مونږ د افغانستان او بین المللي ټولنې د غړو په توګه د استرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ د دولتونو (د طرحې د مخکښانو په توګه) ښـــځو سره د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانســـیون (ســـیداو) د نقض د له منځه وړلو په برخه کې د افغانســـتان د مکلفیت لپاره، چې د دې کنوانســـیون د ۲۹مې مادې پر بنســـټ په رســـمي توګه مطرح شـــوې ده، درناوی او ستاینه کوو. دا نوښت کولای شي د عدالت په بین المللي محکمه (ICJ) کې د افغانستان پر وړاندې قضیه رامنځته کړي. همدا راز، دا اقدام له افغانو ښځو سره د عملي پیوستون په لاره کې ارښتمن اقدام ګڼل کیږي.

موږ همدا راز د افغانسـتان د بشر- حقونو له ټولنې سره د حضـوري او مجازي ناسـتو هرکلی کوو او د معنا لرونکو او پراخو خبرو اترو غوښـــتونکي یوو. دا حقوقي نوښـــت د بین المللي قوانینو لاندې د خپلو ژمنو پر وړاندې د افغانســـتان د ځواب یونکي کولو په برخه کې مهم ګام دی. په افغانســـتان کې د ښـــځو د حقونو مخ په زیاتېدو بحران او د ۱۴۰۰ کال د زمري میاشـــتې پر ۲۴مه د طالبانو د دولي د تســـلط څخه را پدېخوا د دوی له خوا د ښـــځو او نجونو د حقونو ســـخت او سیسـتماتیک نقض ته په کتو، تر پخوا زیات د عدالت پلي کولو او ځواب ویلو اړتیا ده. د متحده ایالاتو د سـولې بنسـټ (USIP) د رپوټ پر بنسـټ، د ۱۴۰۳ کا د سـلواغې تر ۱۲مې نېټې، په افغانسـتان کې بالفعل چارواکو د ښـځو او نجونو پر وړاندې ۱۳۸ فرمانونه صـادر کړي او تبعیضي- تدابیر یې نیولي دي، چې عملاً یې هغوی له عمومي ژوند څخه حذفې کړې دي او پر تبعیض او د جنسـیت پر بنسـټ پر ځورونه یې محکومې کړې دي؛ دا هغه اقدامات دي چې افغان ښـځو او د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي رپوټر په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت اړوند د «جنسیتي آپارتاید» مصداق ګڼلي دي.

طالبانو ښـــځې له منځنیو او لوړو زده کړو، کار، ســـیاسي ګډون، او برابرو روغتیایي خدماتو ته له لاسرسي څخه محرومې کړې دي، او د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د قرباني ښځو او نجونو لپاره ملاتړیز میکانیزمونه یې له منځه وړي دي. افغانو ښـــځو په تېرو درې نیمو کلونو کې د طالبانو د ځپونکو ســـیاســـتوو پر وړاندې په زړورتیا سره مقاومت کړی دی. معترضې ښځې له خپلسرو نیونو، شکنجو، صحرایي اعدام او اجباري تري تم کولو سره مخامخې شوې دي. په تبعید کې د افغانســـتان د بشر- حقونو مدافعانو هم د تبعیضي- ممنوعیتونو د لغوه کولو د غوښـــتنې او د دې نقضـونو پر وړاندې د ځواب ویلو لپاره له خپلو بین المللي او سیمه ییزو ظرفیتونو څخه ګټه اسختې ده.

موږ د افغانستان او بین المللي مدني ټولنې د غړو په توګه په دې احتمالي قضیه کې د افغان ښځو او نجونو پر حیاتي نقش تاکید کوو. افغانې ښځې د بدلون د عاملینو په توګه باید د دې نوښت له مخکښو دولتونو سره د ګډون فرصت ولري چې د شواهدو په راټولولو، د قضیو په مستندولو، ستراتیژیکو اړیکو او راتلونکو حقوقي پروسو کې برخه واخلي. سربېره پر دې، د دې نوښـت مخکښ دولتونه باید د امکان تر حده د افغان وکیلانو حضـور او برخې اخســتنې ته لومړیتوب ورکړي، لکه په تصمیم نیونه، د حقوقي ستراتیژۍ په ټاکلو، او د امکان په صورت کې د دعوې پر مخ وړلو او دادغوښتنه کې.

د دې بهیر د اغېز او ټول شمولیت لپاره د غوښتونکو دولتونو او بین المللي ټولنې لپاره لاندې توصیې وړاندې کوو:

- **معنا لرونکې او خوندي مشـورې:** په افغانسـتان کې د ننه او په تبعید کې له دې بحران څخه له متضـرې ټولنې سره پراخې او معنا لرونکې مشورتي ناستې ترسره شي، چې د دې بهیر په غنا او مشروعیت کې لا ډېر زیاتوالی راشي.

- **پراخ ګډون:** د افغانستان د بشر حقونو د فعالانو، د ښځو د حقونو متخصصینو، د حقوقي څېړونکو او پوهانو، او له بېلابېلو قومي، مذهبي او ژبنیو ډلو څخه د مدني ټولنې د استازو فعال حضور او ګډون، او همدا راز د نورو متضررو او ځنډېدو ته شویو ډلو ګډون، لکه د جنسیتي تاوتریخوالي د قربانیانو، معلولیت لرونکو، د ال‌جي‌بي‌تي+ ټولنې غړو او ځوانانو ګډون تضمین شي. د متضـررې ټولنې معنا لرونکی ګډون د دې بهیر د بسیج کولو ظرفیت لوړوي. د افغانستان د بشر حقونو د ټولنې غړي هم کولای شي د دې قضیې لپاره دادغوښتنه وکړي، د لا نورو هیوادونو ملاتړ جلب کړي، د دولتونو او په افغانسـتان کې د ننه د متضـررې ټولنې تر منځ د ارتباطي پُل په توګه عمل وکړي او د افغانســتان په رســنیو کې د ملاتړ غږونه پیاوړي کړي. دا اقدام همدا راز کولای شي د هیواد په دننه کې میلیونونه ښځې او نجونې سره یوځای کړي او دغه بهیر د افغانستان د خلکو لپاره لا ملموس کړي.

- **روڼتیا او پوهاوی ورکول:** د راتلونکي حقوقي بهیر په ټولو پړاوونو کې شـفافیت تضـمین شي او متضـررې ټولنې ته د پوهاوي ورکولو لپاره د افغانستان د مدني ټولنې له بنسټونو سره د همکارۍ له لارې سرچینې ځانګړې شي.

- **د دې بهیر لپاره د پراخ ملاتړ جلب:** د دې ابتکار د ملاتړ د پراختیا لپاره ســتراتیژۍ په لومړیتوب کې راوړل شي، لکه په اسلامي هیوادونو او ډېر نفوس لرونکو هیوادونو کې. په افغانستان کې د *سیډاو* کنوانسیون ښکاره نقض باید په هر ځای کې غیر قابل قبول وګڼل شي. افغانې ښــځې د خپلو حقونو د دفاع لپاره د دې پیاوړې، متنوع او متحد یووالي د لیدلو وړتیا لري. سره له دې، په هغه صورت کې چې د راتلونکي احتمالي قضیې په اړه د عدالت په بین المللي محکمه کې او یا د متقاضي کوم هیواد په چلند کې د دوه ګونو معیارونو د شــتون اړوند برداشــتونه رامنځته شي، دا چاره کولای شي د بهیر باور او اعتبار ته زیان ورسـوي. په بین المللي ټولنه کې تفرقه به د افغان ښځو په ګټه نه وي. د دې نوښت مخکښ هیوادونه باید له لومړي سره دې اندېښنو ته په فعاله توګه رسیدګي وکړي، چې یووالی او د خپلو هڅو ښه نیت څرګند کړي.

د دې سند د ټولو لاسلیک کوونکو بشپړ لېست لپاره، مهرباني وکړئ انګلیسي متن ته مراجعه وکړئ.